او د الله پاک حمد به بيان کړي او وه به وائي: ډير د برکت والا دے هُغه کوم چې ما ته ستا نه نجات راکړو- بيا به هغه يوه سورے کوونکې وَنه ويني او هغه به الله پاک ته سوال وکړي: اے مالِکه! ما دې وَنې ته نزدې کړې چې زهٔ د دې سورے حاصل کړم او د دې اوبه وڅښم- الله پاک به اِرشاد وفرمائي: که زهٔ تا ته دا عطا کړم نو بيا به د دې نه علاوه نور څهٔ خو نهٔ غواړې؟ عرض به وکړي: نه يا رَبه! او د خپل رَبّ سره به وعده وکړي چې د دې نه علاوه به څهٔ نهٔ غواړي- الله پاک به د هغهٔ معذرت قبول کړي ځکه چې هغه به داسې څيز ويني پهٔ کوم باندې چې به هغه صبر نهٔ شي کولے- الله پاک به بنده وَنې ته نزدې کړي او هغه به د هغې سورے حاصل کړي او اوبهٔ به وڅښي- بيا به هغه يوه بَله وَنه ويني کومه چې به وړومبۍ وَنې نه ډيره ښائسته وي- د هغې پهٔ ليدو به هغه د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړي: مولا! تهٔ ما دې وَنې ته نزدې کړې چې زهٔ د دې سورے حاصل کړم او د دې اوبهٔ وڅښم، د دې نه علاوه به زهٔ نور هيڅ نهٔ غواړم- الله پاک به فرمائي: اے ابنِ آدمه! آيا تا وعده نهٔ وه کړې چې تهٔ به د دې (مخکښينۍ وَنې) نه علاوه نور څهٔ نهٔ غواړې؟ بيا به الله پاک وفرمائي: که زهٔ تا دې وَنې ته نزدې کړم نو بيا خو به د دې نه علاوه نور څهٔ خو نهٔ غواړې؟ عرض به وکړي: نه يا رَبه! او هغه به د خپل رَبّ سره وعده وکړي چې د دې نه علاوه به هيڅ نهٔ غواړي- الله پاک به د هغهٔ معذرت قبول کړي ځکه چې هغه به داسې څيز ويني پهٔ کوم باندې به چې هغه صبر نهٔ شي کولے- الله پاک به بنده هُغه وَنې ته نزدې کړي او هغه به د هغې سورے حاصل کړي او اوبهٔ به وڅښي- بيا به هغهٔ د جنَّت د دروازې پهٔ خوا کښې يوه وَنه ويني کومه چې به د مخکښينو دواړو وَنو نه ډيره ښائسته وي- هغه به د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړي: اے مولا! تهٔ ما دې وَنې ته نزدې کړې چې د دې نه سورے حاصل کړم او د دې

اوبهٔ وښبنم، زهٔ به د دې نه علاوه نورهيڅ نهٔ غواړم- اللّٰه پاک به وفرمائي: اے ابن آدمه! آيا تا وعده نهٔ وه کړې چې تهٔ به د دې نه علاوه نور څهٔ نهٔ غواړې؟ بنده به عرض وکړي: ولې نهٔ يا رَبه! خو اوس به د دې نه علاوه نور څهٔ نهٔ غواړم- اللّٰه پاک به د هغهٔ معذرت قبول کړي ځکه چې هغه به داسې څيز ويني پهٔ کوم چې به هغه صبر نهٔ شي کولے- اللّٰه پاک به بنده هُغه وَنې ته نزدې کړي او هغهٔ به د هغې سورے حاصل کړي او اوبهٔ به وڅښي- بيا چې به کله هغه د جنتيانو اوازونه واوري نو د اللّٰه پاک پهٔ بارګاه کښې به عرض وکړي: اے ربه! تهٔ ما هُم جنَّت ته داخل کړې- د اللّٰه پاک رحمت به پهٔ جوش کښې راشي او اِرشاد به وشي: اے بنده! ستا سوالونه کوم يو څيز ودرولے شي؟ آيا تهٔ به پهٔ دې خبره باندې راضي شې چې زهٔ تا ته د دُنيا دوه چنده ځائے پهٔ جنَّت کښې درکړم؟ بنده به پهٔ (حيرانتيا سره) عرض وکړي: اے اللّٰه! آيا تهٔ زما سره ټوقې کوې حالانکې تهٔ رَبُّ الْعٰلَمِين يې-

د دومره واقعې بيانولو نه پس حضرت عبد اللّٰه بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مُسکے شو او هغوئي حاضرينو ته وفرمائيل: تاسو زما نه پوښتنه نهٔ کوئ چې زهٔ ولې مُسکے شوم؟ ټولو عرض وکړو: تاسو ولې مُسکي شوئ؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: کله چې رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا واقعه بيانولهٔ نو هغوئي هم مُسکي شوي وو، صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو ولې مُسکي شوئ؟ نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: د رَبُّ الْعٰلَمِين د مُسکي کيدو پهٔ وجه ځکه چې کله به بنده وائي: آيا تهٔ زما سره ټوقې کوې حالانکې تهٔ رَبُّ الْعٰلَمِين يې؟ نو اللّٰه پاک به اِرشاد وفرمائي: زهٔ ستا سره ټوقې نهٔ کووم خو ما ته پهٔ هر څيز باندې قُدرت حاصل دے- (مسلم، ص100، حديث:463 ملتقطاً)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** تاسو وکتل چې صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم به پهٔ سُنَّت باندې د عمل کولو څنګه جذبه لرله! هغوئي به د اللّٰه پاک د اخري نبي

دغوږونو نيمي پورې ❁ کله پوره غوږونو پورې ❁ او کله چې به زياتې غټې شوې نو د مبارکې ملا سره به لګيدلې- (1)

د ګيرې مبارکې خو ځومره ښکلے شان دے، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ګيرې سره ډير **محبت** فرمائيلو، په دې وجه د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا **محمد** اِلياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم د ګيرې مبارکې سره ډير **محبت** دے هغوئي د ګيرې په باره کښې د خپلو جذباتو په اِظهار کولو اِرشاد فرمائي: الله پاک دې په اِيمان زمونږه مرګ نصيب کړي، د دې نه **مخکښې** چې زمونږه مخ **مَعَاذَ الله**! د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانانو په شان شي! خپل دا ذِهن جوړ کړئ چې که چاړه [د حجامت کولو مشين، بليډ يا ريزر وغيره] چليږي نو زمونږ په مرئ دې وچليږي خو زمونږ په ګيره دې هيڅکله هم نۀ چليږي- افسوس چې نن سبا ډير مسلمانان د ګيرې مبارکې ويښتۀ خريوي او ګنده نالو ته يے غورځوي! آه! د داسې خلقو به په اخرت کښې څۀ کيږي؟ داسې کوونکو ته د هوش نه کار اخستل پکار دي-

ياد ساتئ چې يو موټے ګيره پريښودل واجِب او ګيره خريل يا د يو موټې نه کمول دواړه حرام او دوزخ ته بوتلونکي کارونه دي- وګورئ چې ګيره پريښودل د ټولو انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت مبارک دي، يو نبي هم داسې نشته کوم چې **مَعَاذَ الله**! ګيره خريلي وي- داسې يو ولي هم د ګيرې خريلو والا نۀ شي کيدے او که څوک ګيره خريوي او ځان ته **وَلي** وائي يا په بل چا ځان ته ولي وائي نو هغه خلقو له دوکه ورکوي ځکه چې تر څو پورې په سُنَّت عمل نۀ کوي نو تر هغه وخته پورې **وَلي** نۀ شي کيدے، تر دې پورې چې د يو الله والا اِرشاد دے: **که تۀ څوک**

---

1...الشمائل المحمديه، صفحه:18 و 34 و 35 ملتقطاً-

❁ پهٔ هوا کښې پهٔ اَلوتو ووينې ❁ يا يې پهٔ اوبو باندې د پاخه پهٔ ګرځيدو ووينې خو هغه عملي طور د اللّٰه د يو فرض يا د نبي د يو سُنَّت پريښودو والا وي نو هغه دروغژن دے، دا د هغهٔ کرامت نهٔ بلکې استدراج [يعنې پهٔ ورو ورو د ګمراهۍ يا تباهۍ طرف ته بغير د اِنسان د پوهيدو نه بوتلونکے عمل] دے۔

## د مشرکانو مخالفت کوئ

مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت دعوې کوو خو د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلي ښکلي سُنَّت ګيره مبارکه نهٔ پريږدو حالانکې رسول اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واضحه اِرشاد فرمائيلے دے: **خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ وَفِّرُوا اللِّحَى وَاَحْفُوا الشَّوَارِبَ** يعنې د مشرکانو مخالفت کوئ، ګيرې اوږدې کړئ او بريت ښهٔ کم کړئ [1] ❁ پهٔ يو ځائے کښې يې اِرشاد فرمائيلے دے: **مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ** يعنې چا چې زما د سُنَّت نه مخ واړولو هغهٔ زما نه نهٔ دے [2] ❁ پهٔ يو حديثِ پاک کښې فرمائي: **مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ** يعنې کوم کَس چې د کوم قوم سره مشابهت اِختيار کړي هغه به هم د هغوئي نه وي۔ [3]

ګيرې خريونکو ته د دې حديثِ پاک نه ښهٔ عبرت حاصلول پکار دي چې **مَعَاذَ اللّٰه!** که د ګيرې خريلو پهٔ وجه هغوئي د وور پهٔ عبادت کوونکو کښې شمار کړے شو او د قيامت پهٔ ورځ د آتش پرستو سره راپاڅولے شو نو د هغوئي به څهٔ کيږي! اللّٰه پاک دې مونږ د دې آفت نه محفوظ کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

---

1... بخاري جز:4، صفحه:75، حديث:5892۔
2... بخاري، جز:، صفحه:421، حديث:5063۔
3... ابو داود، جز:4، صفحه:62، حديث:4031۔

